# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ څلورمه | ۷۵۷مه ګڼه


# د ۱۶ سفارتونو ګډه اعلامیه:

## د طالبانو خبرې او عمل سره په ټکر کې دي او په پوره بې پامۍ بشري حقونه نقضوي


۳

## مور لا هم په امریکایي اور کې سوځېږو
۲ مخ

## ایران کې د اوبو کړکېچ؛ د اوبو د کمښت لاملونه څه دي؟
۲ مخ

## لاجورد دهلېز؛ د سیمه ییز او نړیوال جیوپولیتیک په رڼا کې
۳ مخ

## حامد کرزی: د تکبیر وروستۍ نارې د پردۍ جګړې پر ضد ملي قیام دی

د هېواد پخواني ولسمشر حامد کرزي په هرات ولایت کې د خلکو له لوري د تکبیر نارې ته په غبرګون کې ویلي، چې دا چیغې د هېواد له ورانۍ او پردۍ تپل شوې جګړې د خلکو بېزارې څرګندوي او د یادې جګړې پر ضد د ملي پاڅون په مانا دي.
نوموړي پر طالبانو غږ کړی، چې دا نارې دې یو جدي خبرداری وګڼي او د جګړې له دوام، وژنو، د خلکو د کلیو او کورونو له ورانولو دې لاس واخلي او له خپلو خلکو سره یو ځای دې په خپل هېواد کې په عزت، سولې او ارامۍ کې ژوند وکړي. هغه یو ځل بیا ټینګار کړی دی چې په هېواد کې د رواني جګړې ګټه بهرنیانو ته، خو ورانۍ او درد یې افغانانو ته پاتې کېږي.
نوموړی داسې مهال دغه څرګندونې کوي، چې ورمه شپه لسګونو زرو هراتیانو په دغه ښار کې د تکبیر په نارو سره د رواني جګړې په اړه خپل غږ پورته کړ. دغه راز له تېره شپه په کابل او یو شمېر نورو ولایتونو کې هم زرګونو کسانو د «الله اکبر» په نارو سره په هېواد کې روانه جګړه وغندله او له ښکېلو خواوو یې وغوښتل چې ژر تر ژره دې روانه جګړه ودروي او له سوله ییزو لارو دې روان کړکېچ ته د پای ټکی کېږدي.

## امریکا: که طالبان خپل تاوتریخوالي او جنایت ته دوام ورکړي، هېڅ غوښتنه به یې ونه منل شي



۳ مخ


## کتاب
۴ مخ


### د اداري او مدیریت تشریحي
# قاموس




څرګنده خبره ده چې په اوسني وخت کې د هرې څانګې ادبیات ډېر بډای او پراخ شوي دي؛ په تېره بیا نوې عامه اداره او علمي مدیریت د نویو تالیفاتو او څېړنو په رامنځته کېدو...

## کرنې ریاست: په هرات کې به د پنځه میلیونو ډالرو په لګښت ۲۰ زره ټني سېلو جوړ شي



د هرات د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، ټاکل شوې چې د کرنې وزارت اړوند د کرنې او خوړو خوندیتوب بېړنۍ پروژې «EATS» له لارې په دغه ولایت کې د غنمو ساتنې په پار یو فلزي او د لېږد وړ ۲۰ زره ټني سېلو جوړ شي. د هرات د کرنې ریاست چارواکو دغه راز زیاته کړې، چې د یاد سیلو د جوړولو په پار د مشورې او همغږۍ په موخه د کاري شریکانو د ۵۰ تنو استازو په ګډون یو ورځنۍ مشورتي ورکشاپ یې جوړ کړ او ډېر ژر به د دغه سیلو رغنیزې چارې هم پیل شي.
د یاد ریاست چارواکي زیاتوي چې یاد سیلو به د لوېدیځې حوزې په کچه د غنمو ساتنې او د ستراتېژیکو زېرمو د ورټیا لوړلو په موخه د پنځه میلیونو ډالرو په لګښت جوړ شي.
د یادونې ده چې په دې وروستیو کې افغان حکومت د کابل په ګډون په ځینو ولایتونو د سیلوګانو د بیارغونې او ترمیم چارې پیل کړې.

## اتمر: برای توقف جنگ در افغانستان، شورای امنیت سازمان ملل متحد باید نشست ویژه برگزار کند



به دنبال تشدید خشونت‌ها از سوی طالبان در شهرها و افزایش تلفات غیرنظامیان، وزارت امور خارجه خواستار تشکیل جلسه خاص شورای امنیت سازمان ملل متحد شده است.محمد حنیف اتمر، وزیر امور خارجه افغانستان دیروز در یک نشست خبری گفت که برای توقف جنگ در افغانستان، شورای امنیت سازمان ملل متحد باید نشست ویژه برگزار کند.
اتمر از شورای امنیت سازمان ملل خواست که اقدامات خاصی سیاسی، قانونی، حقوقی و در صورت نیاز اقدامات امنیتی را برای توقف خشونت طالبان روی دست گیرد. اتمر در این نشست تصریح کرد که برای توقف فوری خشونت‌های خونبار از سوی طالبان، جهان مسوولیت دارد تا جلو جنگ را بگیرد.
اتمر افزود: «طالبان در این جنگ تنها نیستند و آنان را گروه‌های تروریستی بین المللی همراهی می کنند.» اتمر تأکید کرد که گروه طالبان و حامیان خارجی‌شان روی شهرها تمرکز دارند و مردم را که در صلح زنده‌گی می‌کردند با تهدید بالقوه روبه‌رو کرده‌اند. به باور او این عمل‌کرد طالبان پیامدهای بد بشری را به همراه خواهد داشت. در همین وزارت امور خارجه گفته است که نماینده‌گان کشورهای منطقه، جهان و برخی از نهادهای بین‌المللی به تشکیل جلسه شورای امنیت ملل متحد رأی مثبت داده‌اند.


## اعلان!

**شرکت طلوع آرمان شهر میخواهد یک مقدار اجناس را که شامل الماری، کمپیوتر، پرنتر، فرنیچر، تلویزیون و وسایل برقی میشود، را در یک پروسه مزایده لیلام مینماید.**
**تمام داوطلبان واجد شرایط که علاقمندی اشتراک در این لیلام را داشته باشند میتوانند به شماره تیلفون ۰۷۹۹۳۰۵۰۲۰ در تماس شده، شرطنامه را ملاحظه کرده، فورم را خانه پری نموده و الی روز شنبه تاریخ ١٦ اسد ١٤٠٠ ساعت ١ بجه بعد از ظهر به آدرس الکترونیکی این شرکت ارسال نماید.**

ثبت نام از طریق آدرس الکترونیکی ذیل صورت میگیرد:

Info.tasl.company@gmail.com
محل برگذاری و تـاریخ لیلام بعـداً از طریق تیلفون اطلاع داده میشود.

## سرلیکنه

### موږ لا هم په امریکایي اور کې سوځېږو

د هېواد په بېلابېلو سیمو، په ځانګړي ډول په ښارونو کې جګړو خلک سخت خواشیني کړي دي. وروستي معلومات ښيي چې یوازې په لښکرګاه کې جګړو سلګونو کسانو ته مرګ‌ژوبله اړولې ده. پرون یوناما ویلي وو چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ۴۰ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۱۸ نور ټپیان دي. اټکل دی چې واقعي شمېرې به تر دې زیاتې وي. حکومتي اړخ طالبان ګرموي چې په ښارونو یې بریدونه پیل کړي او غواړي د زور له لارې واک ته ورسېږي. طالبان بیا حکومتي ځواکونه ګرموي چې هوایي بریدونه کوي او ملکي وګړو ته پکې مرګ‌ژوبله اړوي.

د جګړې د ښکېلو لورو ملامتیا پر خپل ځای او هېڅوک یې له ملامتیا څخه ژغورلی هم نه شي، خو روانه جګړه لا هم د امریکایي موخو لپاره ده چې پکې د افغانانو وینې تویېږي. امریکا نه غواړي چې په افغانستان کې جګړه ختمه شي، ځکه چې که د دوی له وتلو وروسته جګړه ختمه شي، نو نړۍ ته به د دې پیغام دا وي چې په افغانستان کې د جګړې لامل امریکا وه او د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته افغانانو جګړه پرېښوده او په خپلو منځونو کې یې سوله وکړه. د همدې پیغام د مخنیوي لپاره امریکا داسې لوبه مخته وړي چې جګړه دوام وکړي او نړۍ ته وښيي چې دوی په افغانستان کې د جګړې لامل نه وو، بلکې دا افغانان دي چې یو بل سره وژني او د دوی له وتلو وروسته هم جګړه روانه ده، لا زیاته شوې، خونړۍ شوې او ډېر افغانان پکې وژل کېږي.

د دې لپاره ډېر دلایل شته چې امریکا د اوسنۍ جګړې تر شا ده او له وړاندې یې داسې لارې چارې برابرې کړې دي، چې جګړه دوام وکړي. د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې تړون او بیا په دې تړون کې د ځینو مسایلو راوړل د دې لپاره وو، چې جګړه دوام وکړي. له بله اړخه امریکا همدا اوس هم د جګړې دواړو لورو ته پټ او ښکاره داسې پیغامونه لېږدوي چې مخامخ د جګړې د زیاتوالي سبب کېږي. تر ګردو ښکاره یې په جګړه کې هوایي بریدونه دي. امریکا د هوایي بریدونو پر مټ له یوه اړخه د طالبانو جنګیالیو ته دا پیغام ورکوي، چې دوی په بین الافغاني جګړه کې نه دي ښکېل، بلکې له هغه لوري سره جګړه کوي چې امریکا یې مخامخ هوایي ملاتړ کوي. له بله اړخه د امریکا بریدونه داسې هم نه دي چې د طالبانو د پرمختګ مخه دې ونیسي. که امریکا رښتیا غوښتلی چې د طالبانو د پرمختګ مخه ونیسي، دا بریدونه به یې ښارونو ته د طالبانو له راتګ وړاندې کړي وو، خو چې کله هغوی ښارونو ته راغلل، نو بریدونه یې پرې پیل کړل.

د افغانستان روانه جګړه مخامخ د امریکایانو غوښتنه ده، که امریکا د سولې په نوم پروسه مخ ته وړله او که اوس هوایي بریدونه کوي او یا د افغان دولت د ملاتړ خبره کوي، په ټولو حالتونو کې یې موخه د واقعي سولې تخریب، د جګړې دوام او د افغانانو د تفاهم، پخلاینې او سولې مخنیوی دی. له همدې امله دواړو افغاني اړخونو ته پکار ده چې جګړه ودروي، سوله وکړي او د امریکا دا دسیسه شنډه کړي چې غواړي د خپلو موخو لپاره دلته لا زیاتې وینې تویې شي.

# ایران کې د اوبو کړکېچ؛ د اوبو د کمښت لاملونه څه دي؟

جک ګوډمن؛ بي‌بي‌سي

په دې وروستیو کې له ایرانه د اوبو د جدي کمښت او د برښنا د پرچاوۍ په ګډون د بېلابېلو ستونزو له کبله د اعتراضونو راپورونه ورکول کېږي. دغو اعتراضونو په لویه کې ایران کې د اوبو د کمښت ستونزې ته پام اړولی دی. کارپوهانو لا کلونه وړاندې له دا ډول وضعیت سره د ایران د مخامخېدو اندېښنه مطرح کړې وه.

اوس پوښتنه دا ده چې دغه هېواد کې د اوبو د کمښت لاملونه څه دي؟

**سخته وچکالي**

د ایران د هواپوهنې ادارې اپریل کې د «بې سارې وچکالۍ» خبرداری ورکړ. دې ادارې ویل چې اورښتونه به د تېرې ډېرې مودې له منځنۍ کچې خورا کم وي.

له تېلو بډایه ولایت خوزستان کې ان خلک د اوبو د سخت کمښت له کبله واټونو ته راووتل او نورو ښارونو کې بیا له اوبو د تولیدېدونکې برښنا د پرچاوۍ خلاف اعتراضونه وشول.

د ایران حکومت له دې اړخه ډېرو زیانمنو شویو سیمو ته د بېړنیو مرستو پلان اعلان کړی.

ایران د تودوخې درجې له لوړېدو رانیولې د هوا تر ککړتیا، سیلابونو او د لویو ډنډونو (جهیلونو) تر وچېدو پورې له بېلابېلو چاپېریالي ننګونو سره مخامخ دی.

**د ارومیه جهیل د بڼې بدلېدل**

د ایران انرژۍ وزارت پر ویبپاڼه د خپرو شویو مالوماتو له مخې، د ۲۰۲۰ کال له سپټمبر د ۲۰۲۱ کال تر جولای پورې د دغه هېواد د سیندونو په عمده حوزو کې د اورښتونو کچه د تېر کال د همدې مودې په پرتله د پام وړ ټیټه وه.

موږ ونه توانېدو چې په دې اړه د ایران دولتي ارقام تر لاسه کړو، خو امریکا کې څېړونکو د سپوږمکیو د تصویرونو په وسیله ځینې مالومات راټول کړي دي. دغه مالومات د روان کال تر مارچ پورې ایران کې شوي اورښتونه له تېرو ۴۰ کلونو سره پرتله کوي.

د کلیفورنیا اروین پوهنتون کې د هائیدرومېټرولوژۍ مرکز له مخې، د ۲۰۲۱ کال لومړۍ درې میاشتې ایران کې اورښتونه تر منځنۍ کچې ډېر کم وو.

د ملګرو ملتونو د خوراک‌توکو او کرنې سازمان اټکل کړی چې د ایران د غنمو یو پر درېیمه برخه ارزښتمنې کروندې خړوبه شوې او اورښتونه پرې اغېز نه لري.

**خوزستان کې څه پېښ شوي؟**

د دغه ولایت ځایي اوسېدونکو سختې وچکالۍ او د اوبو جدي کمښت ته په کتو اعتراضونه پیل کړي، چې ځینې پکې د «تږی/تږې یم!» شعارونه ورکوي.

یوه داسې سیمه چې پخوا یې ډېرې اوبه درلودې، اوس د کارون په نوم مهم سیند هم تر ډېره وچ شوی دی.

د شټوتګارټ پوهنتون د څېړونکو لخوا د راټولو شویو مالوماتو له مخې، د سپوږمکیو په وسیله اخیستل شوي تصویرونه ښيي چې د دغه سیند د اوبو کچه تېر کال په پرله‌پسې ډول مخ په ټیټېدو وه.

دا په داسې حال کې ده چې دا سیند په ۲۰۱۹ کال کې د سختو سیلابونو له کبله تر غاړو ډک و.

د خوزستان ولایت چارواکو ته په یوه منسوبه نقشه کې د ۲۰۲۱ کال د جولای د سیمې بندونو کې د اوبو کچه ښودل شوې. دې نقشه کې ښکاري چې د سیمې ډېرو مهمو بندونو کې اوبه په خلاصېدو دي او له دې سره دا غوښتنه هم کېږي چې پاتې اوبه دې لاندې پرتو سیمو کې د شولو اوبخور او د څارویو فارمونو لپاره ورخوشې شي.

ډېر پر دې باور دي چې د تېلو صنعت ځایي ایکوسیستمونه له ستونزو سره مخامخ کړي. د دغه کړکېچ بل عمده لامل له دغو سیمو د ایران مرکزي دښتو او بېدیاوو ته د اوبو اړول ګڼل کېږي.

د ایران د چاپېریال ساتنې ادارې پخوانی مرستیال (کاوه مدني) چې اوس په یال پوهنتون کې دی، وایي: «د اقلیم بدلون او وچکالي یې یوه برخه ده.» خو د نوموړي په وینا: «د ستونزې جرړه د څو لسیزو ناوړه مدیریت، کمزوري چاپېریالي تنظیم، راتلونکې ته په نه کتلو او دې کې نغښتې چې دا ډول وضعیت ته هېڅ چمتووالی نه دی نیول شوی.»

**د اوبو کړکېچ پراخېدونکی دی**

ایران تر ډېره د اوبو په هغو سرچینو بسیا دی چې د وچېدو په حال کې دي. دغه هېواد له پرله‌پسې وچکالیو کړېږي او د اقلیمي بدلون له کبله تر دې له لا ناوړه وضعیت سره مخامخېدونکی دی.

وچه او توده هوا په ایران کې له اوبو د برښنا تولید ډېر اغېزمن کړی. دا کار وار له مخه هم شوی، ځکه روان اوړی دغه هېواد کې د برښنا پرچاوۍ ډېرې دي.

پلازمېنه تهران او نورو ښارونو کې د برښنا د پرچاوۍ خلاف، چې پایله کې یې ټلیفوني او انټرنیټي اړیکې پرې او ترافیکي سیستم له ستونزو سره مخ و، لاریونونه هم وشول.

بلخوا د هوا له تودېدو سره د ایرکنډېشنونو د لګولو اړتیا هم پر برښنا کوټونو فشار ډېر کړی.

له دې سره دا نیوکې هم موجودې دي چې د انرژۍ برابرولو ډېرې سرچینې د کرېپټو کرنسۍ (ډیجیټلي پیسو) کاروبار ته ځانګړې شوې دي.

**د اوبو مدیریت اوږدمهاله ستونزې**

که څه هم وچکالۍ دمګړۍ ایران کې ننګونکی چاپېریال رامنځته کړی، خو د دغه هېواد د اوبو د کړکېچ عوامل تر دې ژور دي.

په ۲۰۱۵ کال کې د چاپېریال یوه متخصص خبرداری ورکړی و که ایران د اوبو کړکېچ ته لاره چاره ونه ګوري، میلیونونه کسان بې ځایه کېدای شي.

په ورته توګه د ایران د چاپېریال ساتنې اداري مشرې (معصومې ابتکار) هم دې برخه کې د اغېزمنتیا لپاره کرنه کې د «انقلاب» غوښتنه کړې.

ایران کې د اوبو اساسي سرچینه ځمکنۍ اوبه دي. دا اوبه تر ځمکې لاندې ډنډونو څخه تر لاسه کېږي؛ خو د هند، امریکا، سعودي عربستان او چین تر څنګ ایران کې هم د تر ځمکې لاندې اوبو د را ایستلو کچه ډېره لوړه ده.

د خوراکي توکو له اړخه د ملي ځان بسیاینې اړتیا د دې لامل شوې، چې کروندګر زیاته اندازه تر ځمکې لاندې اوبو وکاروي. د بېرته ډکېدو په پرتله په ډېره چټکۍ له تر ځمکې لاندې ډنډونو د اوبو رایستل د دې لامل ګرځېدای شي، چې خاوره مالګینه شي او ډېره مالګه په خپل وار سره د ځمکې ښېرازوالی اغېزمنوي.

د علومو ملي اکاډمۍ کې د تر سره شویو څېړنو له مخې، د ایران ډېرو سیمو کې اوبخور د تریووالي له لوړ خطر سره مخامخ دي.

تر ځمکې لاندې اوبو پسې د لا ژورو څاګانو کېندل د ځمکو د کېناستو خطر هم پېښوي او په دې توګه ښارونه کرار کرار ډوبېږي.

**وچېدونکي جهیلونه**

ایران کې د جبو او سیندونو د وچېدو اندېښنه هم موجوده ده چې د خطرناکو شګلنو توپانونو لامل ګرځېدای شي. ارومیه جهیل چې یو وخت نړۍ کې د مالګینو اوبو تر ټولو سترو جهیلونو کې شمېرل کېده، د چاپېریالي ناورین یوه بېلګه ګرځېدلې. دغه جهیل چې یو وخت یې ۱۹۳۰ مایل مربع ځمکه رانغاړله، تر ۲۰۱۵ کال پورې لس برابره کوچنی شوی و.

ایران کې کرنه په چټکۍ د پراختیا په حال کې ده او کروندګرو د ۱۹۹۰یمې لسیزې د وچکالۍ پر مهال د خپلو کروندو د اوبخور او بې شمېره بندونو د ډکولو لپاره تر ځمکې لاندې اوبو رایستلو ته مخه کړه. تر عمومي نیوکو، د ولسمشر تر ژمنو او د اوبخور سیستم له سمون وروسته داسې ښکاري چې د اورمیه جهیل برخلیک بېرته راګرځېدونکی دی. دغه جهیل که څه هم اوس د خپلې پخوانۍ تاریخي اندازې نږدې نیمایي برخې او بڼې ته ګرځېدلی، خو لا په پرېکنده ډول څرګنده نه ده چې لامل یې د اوبخور سیستمونو کې اصلاحات دي که سیمه کې ډېر اورښتونه.

په هره توګه اوږدمهاله وچکالي لا هم خپل پخواني برم ته د ارومیه جهیل ګرځېدل ګواښي.

# د ۱۶ سفارتونو ګډه اعلامیه:

## د طالبانو خبرې او عمل سره په ټکر کې دي او په پوره بې پامۍ بشري حقونه نقضوي

په کابل کې د بهرنیو استازولیو له لوري په هرات ولایت کې د یوناما پر دفتر د تېرې جمعې پر ورځ ترسره شوی برید په کلکو ټکو غندل شوی او پر طالبانو یې غږ کړی چې د دغه جنګي جنایت عاملین پیدا او مجازات کړي.

په اعلامیه کې راغلي، چې طالبان دې د بشري حقونو د نقض له انکار څخه لاس واخلي او په خپلو لیکو کې دې د مسوولو کسانو د تعقیب او څېړنې چارې ته پوره پاملرنه وکړي. اعلامیه زیاتوي، د طالبانو خبرې او عمل سره په ټکر کې دي، ځکه چې دا ډله له یوې خوا په قطر کې د خبرو اترو له لارې د افغان کشالې حل غواړي او له بلې خوا بیا بشري حقونه تر پښو لاندې کوي او د افغانانو او نړیوالې ټولنې د تمې خلاف جګړې ته دوام ورکوي. په کابل کې ټولو بهرنیو استازولیو په خپله اعلامیه کې په افغانستان کې د روانې جګړې پر ژر پای ته رسېدو ټینګار کړی او له ښکېلو لوریو او په ځانګړې توګه له طالبانو یې غوښتنه کړې، چې هر څه ژر اوربند ته غاړه کېږدي او د خبرو مېز ته حاضر شي.



په اعلامیه کې وړاندې راغلي، چې دوی د افغانانو له غوښتنې چې د جګړې پای ته رسېدل دي، ملاتړ کوي او دغه راز غواړي ډاډ تر لاسه کړي چې افغانستان یو ځل بیا د بهرنیو ترهګرو پر پټنځای نه بدلېږي. له دې سره جوخت د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر ویلي، چې په تېرو څو میاشتو کې د طالبانو له لوري په خونړۍ جګړه کې درې زره ملکیان وژل شوي، درې سوه زره کسان د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي او اوسمهال ۱۸ میلیونه وګړي په تر ټولو بد بشري وضعیت کې ژوند کوي. نوموړي دا څرګندونې په دغه وزارت کې د ګاونډیو او سیمه ییزو سفارتونو له استازو سره په لیدنه کې کړې دي. هغه له بهرنیو ترهګرو سره د طالبانو اړیکو ته په اشارې ویلي، چې د دغې ډلې په ملاتړ او مستقیمه همغږۍ ۱۰ زره بهرني ترهګر په افغانستان کې پر جګړې بوخت دي. اتمر څرګنده کړې چې د طالبانو جنګي جنایتونه د توجیه وړ نه دي او په خبره یې، دغې ډلې په سپین بولدک کې درې سوه ملکي کسان په ډله ییزه توګه وژلي او دغه راز یې ۳۰۰ بنسټیزې ټولګټې پروژې تخریب کړې دي. په همدې حال کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې دیبورا لاینز د روان تاوتریخوالي د ژر پای ته رسېدو غوښتنه کړې او په هرات کې یې د یوناما پر دفتر د دغې ډلې برید ته په اشارې ویلي چې طالبانو پر شویو ژمنو عمل نه دی کړی او ټینګار یې کړی چې له ترهګرۍ سره مبارزه یوازې د افغانانو نه بلکې د ټولو ګډ مسوولیت دی. بلخوا طالبانو بیا په افغانستان کې د بهرنیو سیاسي استازولیو د دغې اعلامیې او دغه راز د امریکا د بهرنیو چارو وزیر وروستیو څرګندونو ته غبرګون نه دی ښودلی.

# لاجورد دهلېز؛ د سيمه ييز او نړيوال جيوپوليټيک په رڼا کې

لیکنه: شعیب رحیم

د امريکا وربښمو نوې لارې New Silk Roadنوښت هغه وخت وزيږېد چې د امريکا د بهرنيو چارو وزيرې مېرمن هېلري کلنټن د ۲۰۱۱ کال په جون مياشت کې هند ته د خپل سفر پر مهال په يوه وينا کې د رېل لارې، لويو لارو او د انرژۍ د لېږد د نورو بنسټونو له لارې د سيمه ييز پيوستون خبره راپورته کړه او د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان د ګاز نلليکه يا ټاپي يې د بېلګې په توګه ياده کړه. د دغه نوښت موخه په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستانه د نړيوالو ځواکونو له وتلو وروسته د سيمه ييزې سوداګرۍ، ترانزيټ او زېربنايي پرژو له لارې مخ پر وده افغانستان و. دا وينا په سيمه کې د خپلو سيالو هېوادونو ايران، روسيې او چين د ګټو مهارولو او د امريکا متحده ايالتونو د اوږدمهالې ښکېلتيا ښودنه وه. نو دغه شاليد ته په کتو، د نومبر په ۱۵مه د ترکمنستان په عشق آباد کې د لاجوردو اقتصادي دهلېز د تړون لاسليک کېدل په سيمه کې د افغانستان لپاره د امريکا متحده ايالتونو له ستراتيژيک ليد سره اړخ لګوي.

دغه اقتصادي دهلېز؛ سوداګريزه او لېږدرالېږد لاره ده چې د افغانستان د فارياب او هرات ولايتونو له آقينې او تورغونډۍ بندرونو څخه پيلېږي، د ترکمنستان ترکمنباشي بندر ته رسېږي، له کسپين بحيرې تېرېږي او د ګورجستان د پلازمېنې تبليسي په تېرېدو سره په توره بحيره کې د هغه هېواد پوټي او باټومي بندرونو له لارې د آذربايجان باکو ته رسېږي او له هغه ځايه د ترکيې له لارې اروپا ته رسېږي. په دغه لاره کې سړک، رېل پټلۍ او سمندري لېږدرالېږد يا ترانسپورټي وسايل شاملېږي. د يادونې وړ ده چې غړو هېوادونو پر دغه تړون درې کاله بحث وکړ او يوې پايلې ته ورسېدل.

په دغه پروژه کې د هر غړي هېواد د جيوپوليټيک حالت څېړنه په نړيوال او سيمه ييز سياسي اقتصاد کې د هغوی د مهمو اغېزو ښودنه کوي. افغانستان د دغه تړون لاسليک کېدل تر ډېره بريده د خپلو اوږدمهالو اقتصادي موخو د تر لاسه کولو په لور د يوه مهمه ګام په توګه ونمانځل. په وچه د چاپېر هېواد په توګه افغانستان تر ډېره په خپله نړيواله سوداګرۍ کې د نړيوالو کنوېنشنونو او د افغانستان ترانزيټي سوداګريز تړون (ATTA) او افغانستان- پاکستان ترانزيټي سوداګريز تړون (APTTA) په څېر دوو اړخيزو تړونونو په پام کې نيولو سره پر پاکستان تکيه پاتې شوی دی. خو دغو قانوني چوکاټونو له افغانستان سره ډېره مرسته نه ده کړې او د پاکستان لخوا دغه هېواد د ترانزيټ او سوداګرۍ په برخه کې له ننګونو سره مخ کړی. د جغرافيايي موقعيت په برخه کې د افغانستان دغه کمزوري همېشه د پاکستان لخوا پر افغانستان د خپلو سياسي اجنډاوو د تپلو لپاره د فشار د يوې آلې په توګه کارول شوې. اوس د لاجوردو اقتصادي دهلېز نه يوازې د يوې بديلې لارې په توګه مطرح دی، بلکې له اروپا سره د سوداګرۍ لپاره د افغانستان تر ټولو لنډه، ارزانه او باورې لاره ويل کېږي. پر ترانزيټ او سوداګرۍ سربېره، دا تړون له سيمې سره د افغانستان د پيوستون او د سوېلي اسيا، مرکزي آسيا او منځنۍ ختيځ د بازارونو د تړلو لپاره د يوه مرکز په توګه د افغانستان د راتلونکي تضمين په لور يو ستراتيژيک ګام بلل کېږي.

د لاجوردو اقتصادي دهلېز بل لوری ترکمنستان دی. دغه هېواد په نړۍ کې د طبيعي ګاز څلورم توليدوونکی دی چې روسيې، چين او ايران ته يې صادروي. خو له هايدروکاربن صنعت څخه د هغه هېواد عايد د پرله‌پسې ټکانونو له کبله مخ پر ټيټېدو دي. روسي ګازپروم شرکت د ترکمن ګاز پېرل ځکه ودرول، چې د ۲۰۱٦ کال په پيل يې کې د نرخ پر سر اختلاف راغی او بل خوا ته ايران ته هم په ۲۰۱۷ کال د دغو ګازو صادرېدل د پيسو د نه ورکړې له امله د ترکمنستان لخوا ودرول شول. په دې ډول چين د يوازيني هېواد په توګه پاتې شو چې د ترکمنستان ګاز پيري؛ خو دا آپشن هم ورو ورو له ستونزو سره مخ کېږي. چين ته د ترکمن ګاز لېږد له دريو (الف) (ب) او (ج) ليکو څخه د چين لوېديځ ته تر رسېدو پورې له ازبکستان او قزاقستان څخه تېرېږي. د دغې کچې د ډېرولو لپاره د کال نور دېرش ميليارده مکعبه ګاز هم په پام کې دي چې د (د) ليکې له لارې چې هغه به له ازبکستان، تاجکستان او قرغېزستان له لارو تېرېږي، چين ته ورسېږي. خو د دغې لارې د رغولو چارې د ۲۰۱۵ کال له ډسمبر راهيسې د لارې او تخنيکي موضوعاتو پر سر دربدلې دي. له بلې خوا د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان د ګاز نلليکې يا ټاپي پروژه هم په تېره بيا په افغانستان کې د امنيت حالت ته په کتو سره آسانه چاره نه ده چې پلې شي.

دغه هېواد تر ډېره پر هايدروکاربن صنعت د تکيې له امله له ننګونو سره مخ دی او اوس هڅه کوي چې اقتصاد يې پر بېلابېلو بنسټونو تکيه وي. د دغې موخې لپاره يې له ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۳۰ کال پورې د ټولنيز- اقتصادي پرمختګ لپاره د ملي پروګرام National Program) (for Socioeconomic Development لومړيتوبونه د يوه ستراتيژيک حرکت په توګه غوره کړي، چې له مخې يې غواړي د تورې او کسپين بحيرې د نښلولو په ګډون د لېږدرالېږد او ټرانزيټ په يوه دهلېز بدل شي او له همدې امله يې د ترانسپورټ پر بنسټونو ډېر لګښتونه کړي. ځکه نو د لاجورد اقتصادي دهلېز تړون د دغه هيواد له ستراتيژيکو لومړيتوبونو سره اړخ لګوي. دا به ياد هېواد له سوېلي قفقاز سره لا نږدې کړي او ډېر اقتصادي فرصتونه به په لاس ورکړي.

په ټوله کسپين بحيره کې د لاجوردو سوداګريزې او ترانسپورټي لارې په سيمه کې د آذربايجان، ګرجستان او ترکيې په څېر د امريکا د ملاتړ وړ ټکو ته رسېږي. آذربايجان په جيوستراتيژيک لحاظ د سوېلي قفقاز په نښلولو کې مهم رول لري. دغه هېواد د پخواني شوروي اتحاد له ماتېدو وروسته خپلواکي اخيستې او له هغې راهيسې هڅه کوي چې له روسيې څخه واټن واخلي او ځکه چې روسيه له خپلو کوچنيو ګاونډيانو سره ناروا چلند کوي. له بلې خوا د اکثريت شيعه مسلمان مېشتي هېواد په توګه له ايران سره توکمي او مذهبي ګډولې لري. خو سره له دې يې د شوروي پر مهال سيکولر دريځ ساتلی او له ايران سره يې د سياسي او اقتصادي اړيکو په برخه کې واټن ساتلی دی. د اسرايلو او آذربايجان تر منځ نږدې، پوځي، اقتصادي او سياسي اړيکې د تهران لخوا د ايران ترهونې او اسرايلو په لور د کړلون په ستره ګتل کېږي. له همدې امله دواړو هېوادونو د جاسوسۍ په تور د يو بل د اتباعو نيولو ته دوام ورکړی.

د ۲۰۱٦ کال په اګست کې آذربايجان په يوه درې اړخيزه ناسته کې ګډون وکړ چې له ايران او روسيې سره پکې د شمال- سوېلي ترانسپورټي دهلېز پر سر خبرې وشوې. دغه لاره چې له ځمکې او سمندر تېرېږي، موخه يې د ايران، سوېلي قفقاز او روسيې له لارې له اروپا سره د هند نښلول دي. د آذربايجان ګډون د دغه هېواد د جيوپوليټيک دريځ له مخې حيرانوونکی و، ځکه چې ياد هيواد تل د روسيې او آيران څخه واټن ساتلی و او له داسې ناستو يې ډډه کړې وه. دې ته د امريکا د پام ور اړولو د يوه اقدام په نظر وکتل شول، ځکه د اوباما اداري دغه هېواد ته ځانګړی پام نه و کړی چې پر دې بانديې ياد هيواد ډېر خواشينی و. خو د لاجورد د اقتصادي دهلېز د لاسليک کولو اقدام يو مانور دی، چې نه يوازې له دوديز جيوپوليټيک دريځ سره يې اړه لري، بلکې دغه راز د امريکا د سيمه سيالانو، ايران، چين او روسيې د تبې د راټيټولو په موخه شوی خوځښت هم دی.

د لاجوردو اقتصادي دهلېز بل تمځای ګورجستان دی چې له روسيې، آذربايجان او ترکيې سره ګډه پوله لري او په لوېديځ کې له تورې بحيرې او سوېلي قفقاز سره نښتی. له دوو پېړيو راهيسې دغه هېواد د لوېديځ د ملاتړ د تر لاسه کولو هڅه کوي څو د خپلو پياوړو ګاونډيو روسيې او پرشيې (پخواني ايران) مقابله وکولای شي. د شوروي اتحاد ماتېدو په ۱۹۹۱ کال کې دغه هېواد ته خپلواکي ورکړه، خو روسيې بيا هم دغه هېواد او خپل نور کوچني ګاونډيان د خپل نفوذ د سيمې په توګه وساتل. د ګرجسان پر وړاندې د ځواک د ننداري ته اېښودو وروستی مورد هغه مهال و چې روسيې د ۲۰۰۸ کال په اګست کې دغه هېواد لاندې کړ او د ګرجستان سوېلي اوسيتيا او ابخازيا يې د خپلواکو سيمو په توګه په رسميت وپېژندلې. دغه حرکت تر ډېره بريده له غرب او ناټو سره د يو ځای کېدو له لارې لوېديځ ته د ګرجستان د نور نږدې کېدو د مخنيوي لپاره و.

ګورجستان ترکيې ته د آذري تيلو او ګازو د لېږد يوه لاره ده. آذربايجان، ګورجستان او ترکيه خپلو منځو کې پر نښلېدو تمرکز کوي. په دغو هڅو کې د سوېلي قفقاز د پايپ لاين (د ګازو پايپ لاين) باکو- تبليسي سيهان د تېرو پايپ لاين او باکو- تبليسي- کرس اوسپنې پټلۍ د آذربايجان، ګورجستان او ترکيې لپاره د نوو اقتصادي فرصتونو لاره پرانيستې. دغه پرمختګونه د سوېلي قفقاز په سيمه کې د ترکيې پر روسيې د برلاسي کېدو او نفوذ ښودنه کوي. دغه هېواد د باکو- تبليسي کرس د رېل لارې ته مخکې له مخکې د وربښمو د نوې لارې نوم ورکړی چې دا له هغې خوشبينۍ سرچينه اخلي، چې وبه کولای شي شمالي افريقا او په وچه کې ايسار مرکزي آسيا سره ونښلوي.

ترکيه هم غواړي چې تر ډېره د اروپايي ټولنې لپاره د انرژۍ د لېږد مرکز اوسي. په ورته وخت کې روسيه د اروپايي ټولنې د تيلو او ګازو ستر تامينوونکی هېواد دی. د بېلابېلو هڅو پر مټ او پر روسيه د تکيې د راکمولو لپاره امريکا او اروپا د نابوکو ګاز نلليکې په څېر نوښتونو ملاتړ کوي، چې له کسپين او منځنۍ ختيځ څخه اتريش او مرکزي اروپا ته ګاز لېږدولای شي او ترکيه هم د انرژۍ د لېږد په مرکز بدلولای شي. د نابوکو پايپ لاين کسپين انګېزه کولای شي د روسيې انحصار او د ايران هغه هڅې ونګوي، چې غواړي د اروپا د ګازو تامين د ترانز- کسپين ګاز نلليکې له لارې وکړي، هغه پروژه چې په ۱۹۹۹ کال کې يې تړون لاسليک شو او امريکا يې وړانديز کړی و. له بلې خوا دا کولای شي چې د ترکمنستان صادرات پراخ کړي او پر چين يې تکيه له منځه يوسي. دغه نلليکه نه يوازې له ترکمنستان څخه د ګازو د لېږد موخه لري، بلکې له قزاقستان څخه هم اروپايي ټولنې ته د نيمه سمندري نلليکې له لارې لېږد په پام کې لري. اوسمهال په کسپين کې د پولو پر سر شخړې او د ايران او روسيې تر منځ د دې پروژې پر سر سياليو دغه کار ځنډولی. دا هم د يادولو وړ ده چې دا نلليکه به د لاجوردو د اقتصادي دهليز له لارې د آذربايجان او ګورجستان په وسيله ترکيې ته رسېږي.

د پورته ياد شوي جيوپوليټيک وضعيت په پام کې نيولو سره لاجورد دهلېز د سيمې د ځينو هېوادونو له ملي لومړيتوبونو سره اړخ لګوي او له بلې خوا په سيمه کې د امريکا له ستراتيژيکې ښکېلتيا سره هم همغږي لري. دغه اقتصادي دهلېز د غړو هېوادونو اقتصادي او سياسي اړيکې هم نږدې کولای شي او په اوږدمهال کې د ترانز- کسپين د ګازو نلليکې په څېر د نوښتونو عملي کېدو ته هم لاره هوارولی شي. په پای کې ويلای شو چې دا دې ډېروونکې نښلونې او اقتصادي همکارۍ له لارې سيمه ييزه پراختيا ډاډمنولای شي چې دا په سيمه کې پر ټوليز پرمختګ هم اغېز ښيندلای شي.

## په داوودزي سوداګريز مرکز کې د عزيزي بانک نوې څانګه پرانيستل شوه




عزيزي بانک له خپلې ژمنې سره سم او همدا راز د عزيزي بانک د ستر پراختيايي ليدلوري پر بنسټ، خپله اتياومه (۸۰) څانګه د کابل ښار د داوودزي سوداګريز مرکز په لومړي پوړ کې پرانيستله او دغه لړۍ به د هيوادوالو اړتياوو ته په کتو په هر ولايت او ګڼ نفوسه سيمه کې دوام لري. عزيزي بانک ژمن دی چې خپلو ټولو هېوادوالو ته د بانکي خدمتونو ټولې آسانتياوې برابرې کړي او د دوی د معاملاتو لپاره خوندي چاپيريال چمتو کړي. ياده څانګه په نويو او مجهزو امکاناتو سمبال شوې، چې د پېرودونکو لپاره پراخ او هوسا د انتظار تالار او د(بانکي) معاملاتو لپاره پراخې غرفې لري.

## امريکا: که طالبان خپل تاوتريخوالي او جنايت ته دوام ورکړي، هېڅ غوښتنه به يې ونه منل شي

د امريکا د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن طالبانو ته خبرداری ورکوي، که دغه ډله خپل تاوتريخوالي او جنايتونو ته دوام ورکړي، هغو غوښتنو ته به يې پام و نه شي چې له نړيوالې ټولنې يې لري.

نوموړي چې د افغان کډوالو لپاره يې د يوه نوي پروګرام د پېژندنې په پروګرام کې خبرې کولې، ويلي چې طالبان په نړيواله کچه د رسميت پېژندنې، له تورو نوملړونو د خپلو مشرانو د نومونو د ايستلو او نړۍ ته په ازاد ډول د سفر غوښتونکي دي، خو په خبره يې، که دا ډله تاوتريخوالی کم او جنايتونه کم نه کړي، دا غوښتنې به يې و نه منل شي.

هغه زياته کړې: «موږ په بېلابېلو سيمو کې چې د طالبانو تر بريد لاندې دي، د دوی د جنايتونو شاهدان يو. دا راپورونه د اندېښنې وړ او د منلو نه دي. دا يوه لويه مسئله ښيي او هغه دا چې طالبان په راتلونکي کې د ډېرو شيانو په لټه کې دي. دوی د نړيوالې پېژندنې او نړيوال ملاتړ په هڅه کې دي. دوی غواړي مشران يې په ازاد ډول نړۍ ته سفر وکړي، دوی د بنديزونو پای غواړي، خو که طالبان په زور د هېواد د نيولو او يا هم د شويو جنايتونو عاملان وي، له دوی سره هېڅ يو شی، کېدونکی نه دی.» د امريکا د متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزير له افغانستانه د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته له دغه هېواد سره د تلپاتې همکارۍ ډاډ هم ورکړ او زياته يې کړه، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ به يوه سياسي حل ته د رسېدو په برخه کې خپله ډيپلوماسي روانه وساتي.

بلېنکن ويلي، امريکا په افغانستان کې يوه سياسي حل ته ژمنه ده او په دې برخه کې به د سيمې له هغو هېوادونو سره خپلې همکارۍ ته دوام ورکړي، چې په افغانستان د ثبات او ډيموکراسۍ پلوي دي.

د متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزير داسې مهال له طالبانو غواړي چې جنايات او تاوتريخوالی پای ته ورسوي، چې په کابل کې د امريکا سفارت په يوه اعلاميه کې داعش او طالبان د غزني په مالستان کې د ۴۰ ملکيانو په وژنه تورن کړي او زياتوي، که دا پېښه کره وي، جنګي جنايت ګڼل کېدای شي. امريکا په دې وروستيو کې په ښکاره د طالبانو پر وړاندې يو څه سخته ژبه کاروي.

د دې ترڅنګ د افغانستان ملي دفاع وزارت تاييدوي چې امريکايي الوتکو په هرات او لښکرګاه کې پر طالبانو هوايي بريدونه کړي. د دغه وزارت چارواکو د نوم نه ښودو په شرط رسنيو ته ويلي چې په دغو بريدونو کې طالبانو ته درنه مرګ‌ژوبله اوښتې ده. د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد بيا د امريکا هوايي بريدونه او دا ډول څرګندونې د دوحې د هوکړې خلاف بولي.

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرېنکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**



### د بېگار د کمپ (زندان) تجربې

له گټور اړخه د وژونکي کاپو پېژندل په هر صورت گټور وو، په دې خاطر مې ښه په زور زور چکچکې ورته ووهلې.

عموماً په زندان کې د هر ډول هنر تعقیبول لږ خندوونکی کار و، ځکه پر زندانیانو د هنر اړوند هر ډول کار واقعي اغېز په اصل کې د هنري ننداري او د زندان د بد ژوند ترمنځ له شته تضاده سرچینه اخیسته. په شویتز زندان کې په دویمه شپه د ډېرې ستړیا له امله په ژور خوب ویده وم او د موسیقۍ په غږ راویښ شوم، هغه شپه به مې هېڅکله هېره نه شي. زموږ د بلاک سرڅاروونکي په خپله خونه کې کوم پروگرام درلود او خونه یې زموږ د بلاک له دروازې سره جوخته وه. دوی په نښشه کې گډې وډې سندرې ویلې. ناڅاپه یوه چوپتیا خپره شوه او ناڅاپه د شپې په چوپتیا کې د وایلن ټانگو غمگینه نغمه وغږېده. دا نغمه زړه وه، خو ارزښت یې نه و بایللی. وایلن ژړېده او زه هم ورسره اوبه کېدم، ځکه په هغه ورځ د یوه کس څلورویشتمه کلیزه وه. دا کس د شویتز زندان په یوه بل سر کې بندي و چې له موږ سره به یې څو سوه یا څو زره متره واټن درلود او ما ورته هېڅ لاسرسی نه درلود. دا انسان زما مېرمن وه.

له زندانه بهر خلکو ته ښایي دا جالبه وي چې په زندان کې هنر هم وي، خو تر ټولو ډېره جالبه به ورته دا وي چې طنز او شوخي هم پکې وه. دا شوخي به ډېره نرمه وه او یو څو ثانیې به یې زموږ ذهن بوخت ساته. شوخي د ځان ژغورنې لپاره یوه بله اروایي وسله ده. دا لیدل شوې چې که د څو شېبو لپاره هم وي، خو شوخي د دې لپاره ډېره ښه وسیله ده چې انسان له سختو او بدو حالاتو جلا کړي. له ما سره په خوا کې یوه کس کار کاوه او ما هغه ته شوخي ورښودله. ورته ومې ویل چې هره ورځ به یوه یوه ټوکه جوړوو، دا ټوکې به د هغو پېښو په اړه وي چې له زندانه تر ازادۍ ورسره مخ کېدای شو. زما دا ملگری جراح او د یوه لوی روغتون د سرطبیب مرستیال و. یوه ورځ مې په دې وخنداوه چې کله له دې ځایه ووځې او بیا درپکې د زندان عادتونه همداسې پاتې وي، بدلولای یې نه شې. موږ به چې کار کاوه، یوه کس به څارلو، څنگه به چې مشر راغی، هغه به غږ وکړ: «کار وکړئ، کار وکړئ.»
خپل ملگري ته مې ویل چې یوه ورځ به ته په عملیات خونه کې لگیا یې، یو مهم عملیات به کوې، په دې وخت کې به نرس رامنډه کړي او درته وایي به چې «کار وکړئ، کار وکړئ» یانې په دې مانا چې سرطبیب راروان دي.
کله کله به نورو زندانیانو هم د راتلونکي په اړه جالبې ټوکې جوړولې. مثلاً یوه شپه به یې انگېرله چې مېلمستیا ته تللي دي، خو د دوی ورته پام نه وي، هماغه د زندان عادت پکې وي، په دې وخت کې ورته کوربه ښوروا (سوپ) راوړي، دی ورته وایي په څمڅۍ کې یې ښخ ښخ را واخله، چې لږې چڼې هم پکې راشي.

انسان چې د ژوند د هنر استاد شي، نو بیا د شوخۍ پیدا کولو او شیانو ته د شوخۍ له زاویې د کتلو چل هم زده کوي. سره له دې چې د زندان په ژوند کې څورېدل ډېر وي، خو بیا هم پکې د ژوند هنر زده کول مهم دي. مثلاً د انسان څورېدل گاز ته ورته وي. که تاسو یوې کوټې ته گاز خوشې کړ، کوټه چې هر څومره لویه وي، گاز پکې خپرېږي او ټوله کوټه نیسي. همداسې څورېدل او خپگان هم د انسان ټول روح او ذهن نیسي، دا پکې مهمه نه ده چې خپگان لوی دی که کوچنی. نو دا ویلای شو چې د انسان د څورېدو او خپگان اندازه نسبي ده.

**دوام لري...**

# د اداري او مدیریت تشریحي قاموس

اکسوس کتابپلورنځی

څرگنده خبره ده چې په اوسني وخت کې د هرې ځانگې ادبیات ډېر بډای او پراخ شوي دي؛ په تېره بیا نوې عامه اداره او علمي مدیریت د نویو تالیفاتو او څېړنو په رامنځته کېدو د لغاتو او اصطلاحاتو له پلوه د لویې زېرمې لرونکی شوی دی. د اداري او مدیریت اصطلاحات نه یوازې په عامه اداره او مدیریت، بلکې په ټولو نورو علومو کې هم اهمیت لري. دا ځکه چې اوس هره ځانگه مدیریت کولو، پلان کولو، ارزونې، تنظیم، له نورو سره مفاهمې، راپورونو جوړولو او د معیارونو تر لاسه کولو ته ضرورت لري. د کار دغه ساحې ځانگړي اصطلاحات او مفاهیم لري. یو مدیر به تر هغو بریالی نه وي چې پر مفاهیمو او اصطلاحاتو پوه نه وي، له هغو څخه لازمه مانا وانخلي او هغه سم ونشي کارولی. دغه هدف ته د رسېدو لپاره نه یوازې یوې ساده لغتنامې (glossary)، بلکې تشریحي قاموس (ډکشنري- سیندگي) ته اړتیا ده. دغه قاموس د اداري او مدیریت تشریحي قاموس دی. هره ډکشنري چې د یوه لوی مقصد لپاره لیکل کېږي، نو خامخا به لږه یا ډېره تشریحي وي. یانې که د یوې اصطلاح یا لغت مانا ښودل کېږي، پکار ده چې د تعریف، شواهدو او مثالونو له لارې لږ څه توضیح هم شي او د واحد مدخل بېلابېلې ماناوې او ترکیبونه یې معرفي شي. (د قاموس لیکنې په بحثونو کې هغه کلیمه مدخل بلل کېږي، چې په قاموس کې باید مانا او توضیح شي.) عامه اداره یوه ټولنیزه څانگه ده، ځینې اصطلاحات یې په حکومتولۍ او مدیریتي دندو کې ځانگړې مانا پیدا کوي چې د اداري او مدیریت د علومو اصطلاح بیا له لغوي مانا سره یوڅه توپیر لري، نو د دې لپاره چې د دې ډول کلمې پر مانا او د استعمال پر ځای لا ښه پوه شو، باید یو مثال او توضیح هم ورکړل شي. د دغسې مقصد لپاره د اداري او مدیریت د قاموس مؤلفان یوه جمله د بېلگې په توگه راوړي، دوی دغې جملې ته «د قاموس مثال» وایي.

دغه قاموس د دوو ژبو قاموس یا ډکشنري ده، ځکه چې په انگلیسي او پښتو لیکل شوې ده. نو په انگلیسي -پښتو قاموس کې چې «قلم» ته «pen» ولیکو، د دوه ژبې ډکشنري مقصد پکې پوره کېږي؛ خو ډېره به ښه وي چې په دغه دویمه ژبه (پښتو) کې به «قلم» تعریفوو. دغه راز که ډکشنري لږ مفصله وي، نو د قلم ډولونه به راوړو. د «خودرنگ» او «خودکار» فرق به کوو، د «توش» په شمول د نوې زمانې قلمونه به یادوو او پر دې به هم غږېږو چې په تېرو زمانو کې څه ډول قلمونه وو.

په اداره، مدیریت، سازمان او په مجموع کې په اداري او سازماني چارو کې پوهاوی او اړیکې اساسي رول لري. اداري اصطلاحات د اداري ژبه ده. کارکوونکي، مدیران او د عامه خدماتو مامورین چې پر اصطلاحاتو او د پوهاوي پر ابزارو حاکمیت او تسلط ونه لري، عامه خدمات نه شي اجرا کولای.

د کتاب لیکوال وایي، څومره چې ما ته د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د روزنیزو دورو او د عامه اداري او پالیسۍ په پوهنځي کې د تدریس له تجربې څخه ثابته شوې ده، موږ په دغو ټولو ساحو کې اصطلاحاتو ته ضرورت لرو. زموږ د عامه اداري کارکوونکي او کادرونه باید د اداري پر ژبه پوه او د رسمي- اداري ادبیاتو او لغاتو دایره یې پراخه وي. د دوی د افادې قوه په همدې پورې اړه لري. څو چې ولس د اداري پر اهدافو پوه نه شي، له حکومتولۍ سره یې اړیکې نه شي تامینېدای.

دغه ډکشنري یا قاموس د عامه اداري او سازمانونو د کارکوونکو د مفاهمې مهارت لوړوي او دوی ته ژبه ور زده کوي. دوی لابیگرۍ ته چمتو کوي، د دوی د لیکنې مهارت او د افادې قدرت اوچتوي او د مسایلو په پوهېدو او درک کې یې ورتیا زیاتوي. له محصلانو، زده کوونکو او څېړونکو سره هم په همدې برخو کې ډېره مرسته کوي. له دې پرته د اداري اساسي اسناد جوړول (راپور، پلانونه، پالیسي، د مرام او هدف ښودل، مکتوب، پیشنهاد او...) ټول د اداري پر ژبه د پوره حاکمیت غوښتنه کوي چې هغه د ډکشنري په مرسته بډایتوب موندلای شي.

مینهوال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال/ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | مدیریت پروژه | محمد نعیم عظیمي | ۲۵۰؋ |
| ۲ | اماني فکر | بخت مرجان بختیار | ۱۷۰؋ |
| ۳ | د ملا کنډ جگړه | وینستون چرچل/محمد ابراهیم عبدالرحیمزی | ۱۵۰؋ |
| ٤ | برښنایي حکومتولي | بېلابېل/لعل الدین عاطف | ۲۵۰؋ |
| ٥ | د افغانستان جنایي سیاست | غلام دستگیر هدایت /لعل اقا شیرین | ۱۷۰؋ |
| ٦ | نړیوالتوب | ډیویډ هلډ، انتوني مک گرو/ ارشاد رغاند | ۱۳۰؋ |
| ۷ | د ملتونو ترمنځ سیاست | هانس جي مورگنتا / ارشاد رغاند | ٤۸۰؋ |
| ۸ | د نړیوالو اړیکو تاریخ | موریس وایس/ خالد سنگر | ۲۸۰؋ |
| ۹ | د واکمنۍ هنر | اندري ډي گویالومي / لعل الدین عاطف | ۱۳۰؋ |
| ۱۰ | نړیوال سیاست او د بهرني سیاست اصول له نویو زیاتونو سره | دوکتور سید عبدالعلي قوام/ فضل ولي شیراني | ۲۲۰؋ |
| ۱۱ | د بهرني سیاست پالیسي او ماهیت | جیمزباربر او مایکل سمیت / لعل اقا شیرین | ۳۷۰؋ |
| ۱۲ | نړیوالې اړیکې | یورگن هارتمن / روح الله زهیر | ۳۰۰؋ |
| ۱۳ | په منځني ختیځ کې سیاست او حکومت | بېلابېل نسیم سحر | ۳۰۰؋ |
| ۱٤ | د سیاسي تحلیل زده کړه | علي جان مرادجو / عبدالوارث خوشحال | ۲۵۰؋ |
| ۱٥ | د افغانستان اوبه؛ افغانستان د خپلو اوبو په گرداب کې | محمد داوود نیازی | ۱٦۰؋ |
| ۱٦ | اساسات پالیسی سازی عامه | سجیه بهگام امین | ۱۲۰؋ |
| ۱۷ | اداره و مدیریت | گلرحمن قاضی | ۱۵۰؋ |
| ۱۸ | خشکسالی و مدیریت آن | نسرین عصمت فقیری | ۱٦۰؋ |
| ۱۹ | مبانی و اصول مدیریت | عبدالطیف رحمانی/حشمت الله ناصري | ۲۵۰؋ |
| ۲۰ | مدیریت منابع بشری | عبدالطیف رحمانی | ۲۵۰؋ |
| ۲۱ | مبانی برنامه ریزی درسی آموزش متوسطه | حسن ملکی | ۱۳۰؋ |
| ۲۲ | مقدمه ای بر نمونه گیری در تحقیق | حسن سرایی | ۱۷۰؋ |
| ۲۳ | مبانی مهندسی مالی و مدیریت ریسک | رضا راعی، علی سعیدی | ۲۵۰؋ |
| ۲٤ | مبانی فلسفی تیوری سازمان | حسن میرزائی اهرنجانی | ۲۳۰؋ |
| ۲۵ | مدیریت منابع انسانی | اسفندیار سعادت | ۲۰۰؋ |
| ۲٦ | اصول مدیریت | علی رضائیان | ۲۰۰؋ |
| ۲۷ | مبانی برنامه ریزی آموزشی | بهرام محسن پور | ۱۲۰؋ |
| ۲۸ | مبانی سازمان و مدیریت | علی رضائیان | ۲۰۰؋ |
| ۲۹ | مدیریت پروژه | محمد جواد عاصمی پور | ۳۵۰؋ |
| ۳۰ | سیستم اطلاعات مدیریت | علی رضائیان | ۱۷۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۸۰ |
| € | ۹۳,۹۰ |
| Rp. | ۴۸۹ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۴۰ |
| £ | ۱۰۹,۸۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# سترو بریاوو ته د رسېدو اساسي لارې

ژباړه: صفي الله پادشاه

موږ ټول په ژوند کې له نورو څخه ډېرې خبرې اورو. د خلکو خبرې موږ ته نظریه را کوي، لارښوونه راته کوي او انګېزه راکوي، خو موږ بیا هم بدلون نه کوو او په همغه ځای کې قرار لرو چې له اوله پکې وو. نه پوهېږو چې ستونزه زموږ ده او که د هغوی، او یا هم ښایي دواړه سم وي.

دغه مقاله تر پایله ولولئ څو هغه حللارې مطالعه کړئ چې له اوسني موقعیت څخه مو یو ګام وړاندې بیایي او هڅو، حرکت او پرمختګ ته مو هڅوي.

زه پر حقیقت باور لرم. زه دا نه وایم چې تاسو هر سهار لاړ شی او د خپل کور په باغچه کې ودرېږی او لس پنځلس ځله له ځان سره تکرار کړی، چې په باغچه کې مو هېڅ بېکاره او زیانمنوونکي بوټي نشته؛ بلکې زه وایم چې، په باغچه کې مو زیانمنوونکي او اضافي بوټي شته، باید پیدا یې کړئ او له بېخه یې وباسئ.

ستاسو په نظر بریالیتوب څه شی دی؟ شتمني؟ لویه او غوره کورنۍ؟ او یا ډېر شهرت درلودل؟

فرض کړئ یادو ټولو بریاوو ته ورسېدی، څه به پېښ شي؟ ښکاره ده چې خوشاله به شی.

بریالیتوب د هر چا لپاره بېله مانا لري. د ځینو لپاره ډېره شتمني بریالیتوب دی، د ځینو لپاره یوه ښه کورنۍ بریالیتوب دی او د ځینو نورو لپاره ځینې نور شیان. خو د دې هر څه په پای کې موږ د خوشالۍ احساس تر لاسه کوو.

حقیقت دا دی، تاسو هغه وخت د خوښۍ او رضایت احساس پیدا کوی، چې یو کار په سمه توګه سرته ورسوی. ایا تر اوسه دا تجربه لری چې کله مو یو فلم یا لنډه ویډیو کتلې وي، له هغه مو انګېزه اخیستې وي او کله چې فلم پای ته رسېدلی دی، له ځان سره مو ویلي دي، دا همغه څه وو چې ما ورته اړتیا درلوده. سر له سبا به زه یو غوره انسان وم، خپل ژوند ته بدلون ورکوم، هڅې به کوم او ...

خو راتلونکې ورځ مو هېڅ هم ونه کړل او هماغسې لاس تر زنې پاتې شوی.

اندېښنه مه کوئ او خپل ځان مه رټئ، دا هر څه طبیعي دي. تقریباً ټولو انسانانو یو ځل همداسې کړي دي. د خپل ځان رټل او خپل ځان ته په غوسه کېدل هېڅ شي ته بدلون نشي ورکولای؛ بلکې یوازې دومره ده چې تاسو ته ناخوښ روحي او جسمي حالت در په برخه کوي؛ او کله مو چې روحي او جسمي حالت ناسم وي، نشی کولای چې یو کار په سمه توګه تر سره کړی.

اوفرا وینفري وایي، تر ټولو لویه پلټنه او لاس پکار کېدل چې تر سره کولای یې شی، په ژوند کې مو هیلو ته د رسېدو لپاره هڅې کول دي.

له ماشومتوبه موږ ته را ښودل شوي دي چې کله یو څوک خبرې کوي، باید د هغوی په خبرو کې ور ونه لوېږو. په ښوونځي کې یې د څو پرلهپسې کلونو لپاره موږ ته تمرین را کړی او اړ کړي یې یو، کله چې د ښوونځي زنګ وهل کېږي، ټولګي ته لاړ شو، ارام کېنو، څه ونه وایو او یوازې غوږ ونیسو. ان تر هغې چې یا ښوونکی له موږ څخه کوم څه وپوښتي او یا دا چې د تفریح زنګ ووهل شي.

خو په خواشینۍ سره چا را زده نه کړل چې څه ډول یو کار زده کړو او تر سره یې کړو؛ همغه وو چې د وخت په تېرېدو پر غوږ نیولو، څه نه ویلو او هېڅ کار نه کولو عادت شوو. غواړم ووایم چې که ټوله ورځ په یوه ځای کې کېنی او یوازې زده کړه وکړی، د راحتۍ احساس کوی؛ خو ستونزه دلته ده چې هېڅ کار نه تر سره کوی او د څو ورځو په تېرېدو سره مو ټول زده کړي څه هم له یاده وځي.

په دې مقاله کې غواړو هغه لارې درته په ګوته کړو چې په مرسته یې کولای شی خپل دغه عادت ته بدلون ورکړی او یو د خوښې وړ ژوند ولری. نو راځئ چې ګام په ګام مخکې لاړ شو.

لومړی ګام: خپل د خوښې او علاقې وړ کار انتخاب کړئ

د ځان لپاره داسې یو کار او دنده وټاکئ چې مینه ورسره لری او په پوره لېوالتیا یې تر سره کوی. ځان ته یوه اونۍ وخت ورکړئ څو هغه کار زده کړی او تر سره یې کړی. د بېلګې په توګه، فرض کړئ غواړی چې یو ښه ویناوال شی؛ د دې لپاره هره ورځ خپل ځان ته پنځلس دقیقې وخت ورکړئ څو وینا کول زده کړی او د هرې ورځې وینا مو له ځان سره ریکارډ کړئ. یوه اونۍ وروسته د خپلې لومړۍ او وروستۍ ورځې وینا سره پرتله کړئ، ښکاره ده چې د پام وړ پایله به ووینی. په همدې ساده طریقې سره څه موده وروسته داسې یو موقف ته رسېږی چې هیله مو یې درلوده.

دویم ګام: لاس پکار شئ او پیل یې کړئ

هوکې، د هغه کار په هکله چې غواړی تر سره یې کړی، له حده زیات فکر مه کوئ. د بېلګې په توګه، که غواړی وینا کول زده کړی، تر ټولو غوره لار یې دا ده چې له پنځو تر لسو دقیقو پورې وینا کول زده کړی او وروسته د څو ورځو لپاره، هغه څه مو چې زده کړي، تمرین یې کړئ.

ډېری خلک د خپل کار په هکله دومره فکر او څېړنه کوي چې په پایله کې پرې پښېمانه کېږي. هېڅکله وخت له پیسو سره مه پرتله کوئ، ځکه دا تر ټولو بده پرتله ده. موږ ټول کولای شو د ځینو ساده کارونو په تر سره کولو سره چې کوم ځانګړي مهارت ته هم اړتیا نه لري، پیسې لاسته راوړو؛ خو په میلیونونو پیسو سره هم نشو کولای چې یوه ثانیه وخت واخلو. دا سمه ده چې د ژوند کولو لپاره پیسو ته اړتیا لری، خو د پیسو او لېوالتیا تر منځ باید یو وټاکئ.

جالبه دا ده، ټولو هغو کسانو چې خپل د علاقې وړ کار یې انتخاب کړی او تر وروستي حده پورې یې هڅې پکې کړې دي، د پام وړ شتمنۍ ته رسېدلي دي. اجازه مه ورکوئ چې نور ستاسو لپاره تصمیم ونیسي.

درېیم ګام: د خپل راحت او ارامۍ له محوطې ووځئ

تر دې دمه مو وویل چې څه ډول کولای شو یو کار پیل کړو، اوس پر دې خبرې کوو چې څه ډول کولای شو په خپل انتخاب کړي کار کې پرمختګ وکړو. ستاسو په نظر څه ډول کولای شو پر یوه کار کې پرمختګ وکړو؟ د بېلګې په توګه، فرض کړئ غواړو چې لویې او پیاوړې متې ولرو، ستاسو په نظر څه ډول شونې ده؟

ورزش وکړو؟ په زیاته اندازه پروټین مصرف کړو؟....

په ورزش کولو او پروټین خوړلو سره یوازې کولای شی خپله اوسنۍ عضله وساتی. ورزش کول هغه مهال ستاسو د پرمختګ سبب کېږي چې د خپل راحت او ارام له محوطې ووځئ. لا ډېرې هڅې وکړئ، سختۍ وګالۍ او یوازې پر یو یا دوه عادتونو تکیه مه کوئ.

څلورم ګام: هر څه ته دلیل راوړئ

ولې تر اوسه خپلو موخو یا هیلو ته نه یاست رسېدلي؟ وخت مو یې نه درلود او یا هم ښایي کافي اندازه پیسې مو نه درلودې. دا ټولې پلمې دي او موږ ځکه دغه پلمې جوړوو چې د خپل ټاکلي کار د تر سره کولو لپاره مناسب دلیل نه لرو.

که چېرې مو د یوه کار د تر سره کولو لپاره دلیل په کافي اندازه مناسب او لوی وي، د دې لامل کېږي څو هغه کار که هر څومره هم ستونزمن وي، تر سره یې کړئ.

په یاد ولرئ، رایټ وروڼو له هر ډول پانګې، انساني ځواک او پارټۍ پرته وکولای شول چې الوتکه اختراع کړي، خو بلې خوا ته د پوهنتون یو استاد چې تر ټولو غوره کاري ځواک او لویه دولتي پانګه ورسره وه، پر دغه کار بریالی نشو. نو دې پایلې ته رسېږو چې په ژوند کې مو پر خپلو علاقو او لېوالتیاوو پسې لاړ شئ، څو وروسته د خوښۍ او رضایت احساس ولری. خپل وخت په سمه توګه مدیریت کړئ، څو هر څومره ژر خپلو هیلو او موخو ته ورسېږی. له حده زیات پر هر څه فکر مه کوئ، یوازې هغه کار چې ستاسو په نظر سم او مناسب دی، تر سره یې کړئ. د هر کار د غوره تر سره کولو لپاره باید لوی او قانع کوونکی دلیل ولری او په خپلو کارونو کې د پرمختګ لپاره باید د خپل راحت او ارام له محوطې ووځئ...

اوس له تاسو څخه زما پوښتنه دا ده، ایا تاسو پر دې حقیقت باور لری چې کولای شی د خپل ژوند ښې او بدې پېښې کنټرول کړئ؟ او یا دا چې فکر کوی ټولې ښې او بدې پېښې د تقدیر او برخلیک کارونه دي؟ پر ځواب مو فکر وکړئ او هر څه په تقدیر پورې تړلي مه بولئ، که داسې وي نو بیا به تل تر تله په همدې اوسني موقف کې یاست، هېڅ ډول پرمختګ به نه کوی او ان د یوې کوچنۍ پرېکړې لپاره به مو هم بل چا ته سترګې نیولې وي.

# د امریکا، برېټانیا او اسراییل خبرداریو ته غبرګون؛

## خطیب‌زاده: د ایران د امنیت پر ضد هر ډول بهرني ګواښ ته به سمدستي ځواب ورکړو

وروسته له هغې چې متحده ایالتونو، اسراییل او برېټانیا ایران پر اسراییلي بېړۍ باندې پر برید تورن کړ او یاد هېواد ته یې د دغه کار د ناوړه پایلو په اړه خبرداری ورکړ، تهران ویلي چې د دغه هیواد د امنیت پر ضد هر ډول بهرني ګواښ ته به سمدستي ځواب ورکړي.

تهران دغه راز د مرسر سټریټ په نامه د تېلو پر بېړۍ باندې په برید کې لاس درلودل رد کړي دي. یاده بېړۍ تېره پنجشنبې پر ورځ د عمان په سواحلو کې ډرون الوتکې په نښه کړه او پکې د بېړۍ دوه تنه عمله –یو برېټانوی او یو رومانیایی ووژل شول او بېړۍ ته هم زیان ورسېد.

له دغه برید وروسته د برېټانیا لومړي وزیر بوریس جانسن ویلي چې ایران باید پر اسراییلي بېړۍ باندې د دغه نه منونکي او ظالمانه برید له عواقبو سره مخ شي. جانسن تر دغه څرګندونو وړاندې متحده ایالتونو او برېټانیا وویل




چې له خپلو متحدینو سره کار کوي چې دغه برید ته مناسب ځواب ورکړل شي.

د دغه برید په غبرګون کې برېټانیا تېره له تهران څخه خپل سفیر ور وغوښت، په ځواب کې یې ایران د برېټانیا شارژدافیر احضار کړی دی. د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب‌زاده ویلي چې تهران د خپل امنیت او ملي ګټو د ساتلو لپاره هر ډول احتمالي ګواښ ته به سمدستي او په پوره قوت او جدیت ځواب ووایي. هغه زیاته کړې چې د برېټانیا د بهرنیو چارو د وزیر تورونه چې د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر هم هغه تکرار کړي، متناقض مطالب لري او دا ډول تورونه پاروونکي دي. بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن او روانه اونۍ د یوه بیان په خپرولو سره وویل: «د ترلاسه شویو اطلاعاتو له ارزونې وروسته ډاډمن یو چې دغه برید ایران کړی دی.»

د برېټاینا د بهرنیو چارو وزیر ډامینیک راب، هم د یوه بیان په خپرولو سره ویلي: «باور لرم چې دغه برید عمدي، حساب شوی او د نړیوالو قوانینو څرګند تېری د ایران له لوري و.»

دغه راز د اسراییل لومړي وزیر نفتالي بنیت هم د دغه برید تر شا د تهران لاس بولي او د ایران انکار یې یو ډارن عمل ګڼلی دی. د اسراییل د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې له ایران څخه به د دغه کار په بدل کې غچ واخلي. که څه هم د دغه برید مسوولیت تر اوسه په ښکاره توګه چا نه دی منلی، خو ایران او د هغه متحدو ملېشه ډلو پخوا له بې پیلوټه الوتکو څخه په استفادې دا ډول بریدونه ترسره کړي دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ډیزاین: حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ خلورمه | ۷۵۷مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۳۵ | ۴۱ | ۳۸ | ۳۹ | ۳۲ |
| ۱۹ | ۲۴ | ۲۴ | ۲۹ | ۲۶ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۰ | لمر ختل ۰۵:۰۶ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۴:۵۲ | ماښام ۰۶:۵۳ | ماخوستن ۰۸:۲۸

## نړۍ



# د امریکا، بریټانیا او اسراییل خبرداریو ته غبرګون؛

## خطیب‌زاده: د ایران د امنیت پر ضد هر ډول بهرني ګواښ ته به سمدستي ځواب ورکړو

۵

## یوناما: در پی تشدید خشونت‌ها در مرکز ولایت هلمند، بیش از ۱۵۰ غیر نظامی کشته و زخمی شده‌اند



نماینده‌گی سازمان ملل متحد در کابل یا یوناما اعلام کرده است که در یک دو روز گذشته در مرکز ولایت هلمند دست‌کم ۴۰ غیرنظامی کشته و ۱۱۸ غیرنظامی دیگر زخم برداشته‌اند.

دفتر هیأت معاونت سازمان ملل متحد افزایش تلفات غیرنظامیان در شهر لشکرگاه مرکز ولایت هلمند را نگران‌کننده توصیف کرده است. طبق اعلام این سازمان، در پی تشدید خشونت‌ها از سوی گروه طالبان در مرکز ولایت هلمند، بیش از ۱۵۰ غیر نظامی کشته و زخمی شده‌اند. به گفته این سازمان این تلفات به دنبال تلاش گروه طالبان برای تصرف مناطق در ولایت هلمند بر غیرنظامیان وارده شده است. با این حال یوناما خواستار توقف فوری جنگ در ساحات شهری شده است. به همین ترتیب در ولایت قندهار که نیز جنگ در ساحات شهری جریان دارد، از تلفات غیرنظامیان گزارش شده است. در عین حال وزارت امور خارجه اعلام کرده است که در پی گسترش حملات خونبار طالبان در چند ماه اخیر، بیش از سه هزار غیرنظامی در کشور کشته و بیش از ۳۰۰ هزار نفر دیگر آواره شده‌اند. این وزارت با نشر اعلامیه‌ای گفته است که حملات گروه طالبان باعث تلفات غیرنظامیان و آواره شدن هزاران نفر در کشور شده است. طبق معلومات این نهاد، در حال حاضر ۱۸ میلیون نفر در افغانستان در وضعیت ناگوار حقوق بشری قرار دارند.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له څلور میلیونه او ۲۵۳ زرو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۹۹ میلیونه او ۸۲۱ زره او ۵۸۲ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او ۲۵۳ زره او ۲۹۵ کسان مړه شوي او له ۱۸۰ میلیونه ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۵ میلیونه او نهه سوه زره او ۴۵ ته رسېدلي او ۶۲۹ زره او ۹۱۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۱ میلیونه او ۷۳۲ زره او ۷۰۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۹ میلیونه او ۹۵۳ زره او ۵۰۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د شپږ میلیونه او ۳۳۴ زره او ۱۹۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د شپږ میلیونه او ۱۵۱ زره او ۸۰۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

بریټانیا، ترکیه، ارجنټاین، کولمبیا او هسپانیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په ترکیه کې د سختې اورلګېدنې د قربانیانو شمېر اتو کسانو ته رسېدلی




د راپورونو له مخې، د ترکیې په ځنګلونو کې د اور لګېدو د دوام له کبله د مړو شمېر اتو کسانو ته رسېدلی او دغه اور لا هم په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی.

د ترکیې د جنوب په ځنګلونو کې دا اور نږدې یوه اونۍ مخکې ولګېد چې په ترڅ کې تر ډېره د دغه هېواد ساحلي ښارونه چې د کال په دې موسم کې ورته زرګونه سیلانیان هم راځي، زیانمن شوي دي. د ترکیې د ځنګلونو وزیر باقر پاګدیمیرلي ویلي، چې دوی تر دې دمه په ۱۲۵ ساحو کې لګېدلی اور کنټرول کړی، خو په ځینو ځایونو کې بیا په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی. نوموړي زیاته کړې، چې د دغه اورلګېدنې اصلي علتونه سخته تودوخه او تُند بادونه دي. د راپورونو له مخې، د زیانمنو شویو سیمو زرګونو اوسېدونکو خپل کورونه پرېښي او یو شمېر سیلانیان هم له خپلو هوټلونو څخه وتلي او ځانونه یې امن ځایونو ته رسولي دي. په ورته مهال اروپایي ټولنې ویلي چې د اور وژنې درې الوتکې د مرستې لپاره ترکیې ته استوي. انقره وایي چې له اوکراین، روسیې، ایران او آذربایجان څخه یې هم د اور وژنې د الوتکو غوښتنه کړې ده.

## ژوند

## د سکرین لاندې لرونکي موبایل سیلفي کامره



زي ټي اي نومې چینایي کمپنۍ په ۲۰۲۰ کال کې د نړۍ لومړنی مخپاڼې لاندې سیلفي کامره لرونکی ځیرک موبایل چې اکسون ۲۰ ۵جي نومول شوی و، خرڅلاو ته وړاندې کړ. اوس دغې کمپنۍ خپل اکسون ۳۰ نومې ځیرک موبایل کې د دې ټکنالوژۍ نورې هم پرمختللې بڼې وړاندې کړې. د سامسُنګ په ګډون ځینې نورې مشهورې کمپنۍ هم د مخپاڼې لاندې سیلفي کامرې په ټکنالوژۍ کار کوي، خو زي ټي اي لومړنۍ کمپنۍ ده چې دغه ټکنالوژۍ لرونکی ځیرک موبایل یې خرڅلاو ته وړاندې کړی. دغه ځیرک موبایل تر ټولو وړاندې چین کې خرڅلاو ته وړاندې شوی او ډېر ژر به نورو هېوادونو کې هم خرڅلاو ته وړاندې شي. اکسون ۳۰ ۵جي کې ٦,۹۲ انچه اولېډ فول اېچ ډي پلس ډوله مخپاڼه ورکړل شوې چې له ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل ۱٦ مېګاپکسله وړتیا لرونکې د مخپاڼې لاندې سیلفي کامره لري. مخپاڼه کې اووه پوړیزه جوړښت ورکړل شوی څو د کامرې سېنسر ته ډېره رڼایي ورسېږي او غوره کیفیت لرونکي تصویرونه واخلي.

## امروت د تېوخي لپاره هم ګټور دي



هسې خو د هر موسم خپلې ځانګړې مېوې وي لکه د اوړي موسم ځانګړې مېوې آم او هندوانې دي او د اوړي په ختمېدو بیا له انارو، امروتو او کېنو څخه ډېره ګټه پورته کېږي. امروت هغه خوږه او ښکلې مېوه ده، چې په آسانۍ سره پیدا کېږي او د ډېرو ناروغیو لکه شکر او فشار کنټرولولو او د معدې ناروغیو په مخنیوي او له منځه وړلو کې د پام وړ رول لري. یوازې دا نه، بلکې د امروتو پاڼې هم د حیرانوونکو ګټو لرونکې وي. امروت نه یوازې دا چې دفاعي سیستم پیاوړی کوي، بلکې د هضم لپاره هم ګټور وي او ترځنګ یې د وزن کمولو او د پوستکي د ناروغیو لپاره اغېزمن تمامېږي او په ورځنې ډول یو دانه امروت خوړل د مجموعي روغتیا لپاره ګټور وي. د تېوخي لپاره: امروت ښه ووینځئ او نرې نرې یې پرې کړئ، بیا په همدې پرې شوو امروتو نیمه کاچوغه شات او دارچیني وشیندئ او د ورځې په هره برخه کې یې خوړلی شئ، خو له خوراک وروسته یې تر نیم ساعت اوبه مه څښئ.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډیرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې دری فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank